لیکنه: ویل دورانت
ژباړه: هلمند اخړ (وزیر)

۲۰۲۲/۰۱/۰۹

# غزالي او د ديني ژوند بیانوبنت

*ویلیام جیمز دورانت(۱۸۸۵ز-۱۹۸۱ز) د لویدیځې نړی په معاصر پړاو کې یو له مخکښو فیلسوفانو او تاریخپوهانو څخه و، د نوموړي تر ټولو مشهور اثر (د تمدن کیسه/تاریخ – The story of Civilization) دی چې په انګریزۍ ژبه کې په یوولسو ټوکونو کې او په پارسی ژبه کې په دیارلسو ټوکونو کې چاپ شوی دی.*
*ویل دورانت هم د عبدالرحمن بن خلدون په څېر د تاریخ فلسفي په اړه مهم نظریات لري او همدا لامل دی چې د اوسنیو تاریخ لیکونکو په ډله کې په لومړۍ لیکه کې ولاړ دی. د ویل دورانت تر ټولو لویه ځانګړتیا داده چې د هرې تاریخي پېښې په اړه بې طرفه لیکل کوي او د تعصب کومه نښه یې په لیکنو کې نه ښکاري. نوموړي د (تاریخ تمدن) په کتاب کې د امام غزالي په اړه یو عنوان ځانګړی کړی دی او موږ هم دا عنوان (غزالی و تجدید حیات دینی) پښتو ژبې ته وژباړه ترڅو  د ویل دورانت له نظره د لوی اسلامي فیلسوف امام محمد غزالي په اړه مالومات ترلاسه کړئ.*

---

په هغه ترڅ کې چې علومو د تکامل په لاره کې پرمختګ کاوه، دین هغه کوله چې د باسواده طبقي علاقه وساتي. د دین او علم لانجي ډېر خلک په ديني شک کې ښکېل کړل ځيني يې ان د کفر او الحاد لوري ته وباسل. غزالي اسلامي متفکران په دريبو ډلو وېشلي دي چې د نوموړي په اند دا دری ډلې کافران وو: الاهیون، دهریون یا طبیعیون او مادیون.
الاهیونو په خدای او د روح په پایښت باور درلود خو د اجسادو له بیا ژونډِ کېدو او پیدا کېدو څخه منکر وو او ویل به یې چې جنت او دوزخ روحاني حالتونه دي.
دهریونو په الوهیت باور درلود خو د روح له پایښت څخه منکر وو. د دوی په اند؛ جهان یوه دستګاه ده چې په خپله کار کوي.
مادیون اصلاً د خدای له شتون څخه منکر وو. دهریه چې نیمه رامنځته شوي ډله وه، په ښکاره ډول یې په (لادري- نه پوهېږم) باندې اعتراف کاوه او د دې ګروهي(عقیدې) پیروان اعدام شول. د دې مذهب د لارویانو له جملې څخه یو تن (اصفهان بن قره) و چې د روژې په ورځو کې یې یوه روژه لرونکي او پرهېزګار کس ته ویلي وو: « بې مانا ځان ځوروې، انسان هم د دانې په څېر غوړېږي، لوېږي او د ربېلو څخه وروسته ابدي له منځه ځي... وخوره او وڅښه.»
د دې شکمن پاڅون عکس العمل، د ابو حامد غزالی ظهور و. نوموړی د اسلام دین له لویو پوهانو څخه و چې دین او فلسفه یې سره یو ځای کړل، د مسلمانانو په منځ کې د (اوګوستینوس) او د اروپایانو ترمنځ د (کانت) په څېر و.
ابو حامد غزالي په ۴۵۰هـ.ق (۱۰۵۸ز) کې په طوس کې وزېږېده. ماشوم و چې پلار یې مړ شو او [د پلار] یوه صوفي ملګري یې د هغه پالنه پر غاړه واخیسته. په ځوانۍ کې یې فقه، الاهیات او فلسفه زده کړل، کله چې درې دېرش کلنۍ ته ورسېد؛ د بغداد په نظامیه مدرسه کې د فقهي استاد شو او څه موده نه وه تېره شوې چې د نوموړي د بیان فصاحت، تبحر او د استدلال قدرت د مسلمانانو د حیرانتیا لامل شو. درې کاله په دې مقام کې پاتې شو ترڅو شهرت یې هر ځای ته ورسېد او وروسته په یوه ناپېژندونکي ناروغی اخته شو، له کاره پرېوت، د خوړلو او څښلو اشتها او هاضمه یې ګډه وډه شوه. ځیني وخت به یې د ژبې بندوالي خبرې بدرنګولې. هغه مهال یې عقلي قوه مخ پر ځوړ روانه شوه. یوه تکړه طبیب د نوموړي د خپګان لامل مالوم کړ او هغه هم روحي ناروغي وه. اصلاً غزالي، لکه څرنګه یې چې وروسته د خپل ژوند په کیسه کې اعتراف کړی دی چې د عقلي ځواک په واسطه یې د اسلام دین د رازونو په پوهه کې شک کړی و او د خپلو دیني زده کړو ریا یې نه شوه زغملی. په هر حال، په ۴۸۷هـ.ق (۱۰۹۴ز) کې له بغداد څخه لاړ او داسي یې وښوده چې د حج نیت لري خو په اصل کې یې غوښتل چې له خلکو څخه ګوښه شي، په یوازېتوب، چوپتیا او آرامی ییل وکړي او په تفکر او تأمل بوخت شي.
دا چې علم له نوموړي سره مرسته ونه کړه چې خپل لړزېدلی ایمان پرې نوی کړي؛ له جهان څخه ووت او په منځلید (درون بیني) یې پیل وکړ، باور یې درلود چې هلته به هغه روښان حقیقت ته چې د روح له عالم سره د

درېدلي ايمان بنسټ دی، له نږدې لاره پيدا کوي. د محسوساتو پر عالم يې (چې د ماده پالني بنسټ دی) په سختی نيوکه کوله. په ظاهري حواسو يې باور نه درلود، ويل به يې چې «ظاهري حواس ستوري کوچني ښکاره کوي په داسي حال کې چې ستوري بې له شکه له ځمکي لوی دي کنه له دومره لېرې واټن څخه د دوی ليدل آسان نه وو. له دې او سلګونو نورو بېلګو يې پايله واخيسته چې په يوازېتوب سره حواس د حقيقت موندني لپاره د باور وړ وسيله نه ده. د هغه په اند عقل له حواسو څخه لوړ دی او هغه څيزونه چې د بېلابېلو حواسو په واسطه يې اخلي، له يو بل سره يې تطبيق او تصحيح کوي خو په پای کې عقل پر حواسو تکيه دی. شايد انسان له عقل څخه لا مطمئن معرفت ولري چې وکولی شي [انسان] حقيقت ته ورسوي. غزالي درک کړه چې دا ډول معرفت يې په صوفيانه منځليد کې پيدا کړی دی. صوفي له فيلسوف څخه ولاړ حقيقت ته ښه نږدې کيږي. د معرفت تر ټولو ښه ډول د ذهن د ميکانيزم په اړه فکر کول دي ترڅو خدای د متفکر کس له منځ څخه هغه ته ښکاره شي او په خپله نفس په تفکر کې له منځه لاړ شي.
په همدې فکر، غزالي خپل تر ټولو مهم کتاب (تهافت الفلاسفه) وليکه چې په هغه کې يې د عقل له ټولو فنونو څخه د عقل پر ضد مرسته واخيسته. دغه مسلمان صوفي، فلسفي جنجال د کانت په څېر په دقت سره وکاراوه ترڅو ثابته کړي چې عقل انسان شکمن کوي او د هغه د معنوي خوارخواکی، اخلاقي خوړتيا او د ټولنيز سقوط لامل کيږي.
غزالي له هيوم څخه اووه پېړۍ وړاندې، عقل د علت قانون تر حدودو او د علت قانون يې د شيانو پرلپسې ګرځولو[دوران] ته راټيټ کړ، ويې ويل چې هر څه چې موږ درک کوو، دا دي چې (ب) تل (الف) ته اېل ده خو نه پوهېږو چې آيا (الف) هم د (ب) علت دی که نه؟
ويل به يې؛ فلسفه، منطق او علم نه شي کولای چې د خدای وجود يا د روح پايښت ثابت کړي، يوازې مستقيم الهام يا حضوري پوهه کولی شي چې دا دوې عقيدې چې له دوی پرته به هېڅ اخلاقي نظم او هېڅ تمدن پاتې نه شي؛ ثابتې کړي.
غزالي په پای کې د تصوف له لارې د دين ټولو عقيدو ته بېرته راوګرځېد. ټولې هيلې او وېرې چې په ځوانی کې يې درلودې، نوې شوې او اعتراف يې وکړ چې د قهار خدای حضور او ډار په خپل سر احساسوي. له سره يې خلک د جهنم له عذاب څخه ووېرول او ويې ويل چې دا نصيحتونه د عامه اخلاقو د اصلاح لپاره لازم دي. بيا يې په قرآن او حديث باور وکړ. د (احياء علوم الدين) په کتاب کې يې [خپلو] لرغونو عقيدو ته د بېرته ورتګ شرح ورکړې ده او د خپل کمال پراو په ټول فصاحت او تودوالي سره يې د [خپلو لرغونو عقيدو] دفاع کړې ده. په اسلام کې فيلسوفانو او شکاکانو هېڅ کله له [غزالي] څخه سخت دښمن نه دی لرلی. په ۵۰۵ه.ق (۱۱۱۱ز) کال کې چې غزالي وفات شو، د الحاد څپه تللې وه، د مؤمنانو زړونه هوسا شوي وو. کله چې د نوموړي کتابونه نورو ژبو ته وژباړل شول، د مسيح دين خلک هم د هغه له کتابونو څخه چې د دين دفاع او د تقوا او صلاح د قاعدو تشريح پکې شوی وه او د اوګوستينوس له دوران څخه وروسته يې سيال نه درلود؛ خوښ شول. د غزالي له دوران وروسته، که څه هم ابن رشد د اسلامي نړۍ په شپول کې ظهور کړی و، فلسفه له تود بازار څخه ولوېده، علمي بحثونه په مستيو بدل شوي وو او قرآن او حديث د نورو ټولو علومو پر ځای د اسلامي عقلونو د پام وړ وګرځېدل.
د غزالي پام د تصوف مذهب ته د صوفيانو لپاره لوی برۍ حسابېده او له نوموړي وروسته اهل سنتو تصوف ته مخه کړه، تر هغه چې د صوفيانو عقايد څه موده پر الاهياتو بر شول. البته د دين او شريعت علما پر رسمي دين او شريعت واکمن وو خو د ديني تفکر برخه د طريقت د شيخانو او اوليااو ځاله وه. د پېښو له عجايبو څخه دا ده چې د فرانسيسيانو پيدايښت په مسيحيت کې، د شپږمې پېړۍ په اسلام کې د نوي تقدس او زهد له پيدا کېدو سره هم مهالی و. صوفي پرهيزګاران د کورني ژوند څخه ګوښه شول. د ديني وروړګلوۍ ژوند يې د شيخ تر سرپرستی لاندې ونيوه او ځان يې (فقير يا درويش) ونوماوه. دوی له ډېرو لارو هڅې وکړې چې خپل روح ته لوړوالی وروبښي او [خپل روح] د خدای په روح کې فاني کړي ترڅو د عجيبو کارونو به ترسره کولو بر شي. ځينې يې د لمونځ او تفکر په واسطه، ځينې يې د زهد، رياضت او ځان تېرېدني په واسطه او بله ډله د وجد په وسيله چې د ذکر حاصل و؛ په دې لاره کې بوخت وو.
دا نظريې د محی الدين بن عربي(۱۱۶۵-۱۲۴۰ز) په يو سلو پنځوسو کتابونو کې چې يو اسپاني الاصل مسلمان و او په دمشق کې استوګن و، جوړې شوې. نوموړي ويل چې نړۍ هېڅ کله نه ده پيدا شوې، ځکه چې بهرنی مظهر هغه وجود دی چې په حقيقت کې د هماغه خدای په منځ کې دی. تاريخ په خپله د خدای د ځانخبرۍ څخه پرته بل څه نه دی او دا ځانخبري بالاخره د انسان په بدن کې پلټنه کوي. جهنم لنډمهالی استوګنځی دی او ټول خلک به په پای کې وژغورل شي. که چېرته مينه په فاني او جسمي ښکارندو پورې وتړل شي، خطا ځي، دا خدای دی چې د محبوب په مخ کې ښکاري او رينتينی عاشق په هره ښکلې څېره کې د ښايست بشپړ مظهرويني او پر هغې زړه بايلي. شايد محی الدين د قديس هيرونوموس دورې مسيحيان ور په زړه کول چې خلکو ته يې ويل «هر څوک چې مېئن شي او پاکلمنی پاتې شي او بيا مړ شي، شهيد مړ شوی» او د اخلاص لوړو مرتبو ته رسيدلی دی. ډېرو متاهلو درويشانو په ښکاره ويل چې له خپلو ميرمنو سره يې په همدې ډول ژوند کړی دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

ځيني اسلامي ډلي د رټو ډېرو تحفو له امله چي خلکو به ورکولي، شتمني به شوې او د ژوند د خوشحاليو په ګټه به رضا وې. د شام له مشايخو ځخه يوه تن په ۱۲۵۰ز کې شکايت کړی و چي « صوفيان مخکي خپه ډلي وې، معنا يو ځای وو؛ اوس يوځای ډلي دي خو معنا خپه.»
خلکو په دوی پورې چي دين او دنيا يې يو ځای غوښتل، خندل او دوی ته به يې پام نه کولو خو مخلصو پرهيزګارانو ته يې درناوی کاوه. دوی ته به يې د خارق العاده کارونو او ځواکمنتياوو نسبت ورکولو، زوکړې به يې لمانځلې، د دوی شفاعت ته به يې هيله لرله او د قبرونو زيارت ته به يې ورتلل.
کله چي اهل سنت بريمن شول، د ديني آسانتيا روح سست شو. د هارون الرشيد له وخت ځخه وروسته سخت مقررات چي عمر بن خطاب [رض] ته يې نسبت کيږي، ورو – ورو را ژوندي شول. د دې مقرراتو پر بنسټ چي تل به په عمل کې نه رعايت کېدل؛ غيرمسلمان اړ شول چي خپل لباس په ژېړو کربنو مشخص کړي او د آس سپرلۍ وربانديې بنده شوه، يوازې حق يې درلود چي پر خر او کچر باندې سپاره شي. حق يې نه درلود چي نوي کليسا يا معبد جوړ کړي، يوازې يې کولی شول چي لرغوني معبدونه بيا راجوړ کړي. اجازه يې نه لرله چي له کليسا بهر صليب وځروي، همدارنګه ناقوس وهل[د عيسويانو د عبادت موسيقي] ممنوع وو. د غير مسلمانو اولادونو، د مسلمانانو مدرسو ته لاره نه لرله خو کولای يې شول چي ځان ته ځانګړي مدرسې ولري. د اسلامي مقرراتو ليکل شوي خبرې لا هم په همدې ډول دي خو تل نه ترسره کيږي. د دې ترڅنګ يوازې په بغداد کې په لسمه ميلادی پېړی کې ۴۵ زره مسيحيان استوګن وو.  د مسيحيانو جنازه له مزاحمت او تعرض ځخه پرته په کوڅو کې تېرېده. مسلمانانو به د يهودو او عيسويانو ځخه چي په لوړو دولتي څوکيو کې به ګمارل شوي وو، شکايت درلود.
ان د صليبي جګړو په په ترڅ کې هم صلاح الدين [ايوبي] کولی شول چي د خپل مسيحي تبع سره په لوړ او مهربان ډول چلند وکړي.

<u>تاريخ تمدن ، ويل دورانت؛ فارسي ژباړه، الکترونيکي نسخه: 2019 – 2021 مخونه</u>


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ